# دَ فيليمون په نُوم دَ پولوس رسُول خط

## سلام

۱ دَ پولوس له طرفه چه دَ مسيح عيسىٰ له خاطره په قيد کښے دے اَؤ دَ ورور
تيموتيوس له طرفه، خپل گران اَؤ ملگرى فيليمون ته، ۲ اَؤ خور افيه اَؤ خپل ملگرى
اَؤ دَ مسيح سپاهى ارخيپوس اَؤ دَ فيليمون دَ کور دَ جماعت په نُوم،

۳ زمُونږ دَ خُدائے پلار اَؤ مالِک عيسىٰ مسيح دَ طرفه دِ فضل اَؤ سلامتى تاسو ته
حاصله وى.

## دَ فيليمون مينه اَؤ ايمان

۴ زَۀ هميشه دَ خپل خُدائے شکر کوم اَؤ تا په خپلو دُعاگانو کښے يادوم، ۵ ځکه
چه ما ستا دَ هغه مينے اَؤ ايمان په حال آؤريدو چه تۀ ئے دَ ټولو پاکانو اَؤ عيسىٰ مسيح
سره لرے، ۶ دَ دے دَ پاره چه ستا دَ ايمان شراکت زمُونږ دَ هر خوئ په پيژندو کښے
دَ مسيح دَ پاره اثر ولرى. ۷ ځکه چه اَئے وروره! ما ته ستا په مينه ډيره خوشحالى اَؤ
تسلى شوے ده ځکه چه ستا په سبب دَ پاکانو زړُونه تازه شوى دى.

## پولوس دَ اونيسيموس دَ پاره سفارش کوى

۸ نو اګر که زَۀ په مسيح کښے ښۀ زړه ور يم چه تا ته دِ مُناسب حُکم درکړم، ۹
خو ما ته دا زياته غوره ښکارى چه زَۀ بوډا پولوس بلکه په دے وخت کښے دَ مسيح
عيسىٰ له خاطره چه په قيد کښے يم، ۱۰ دَ مينے په سبب درته دا سوال کوم چه دَ
خپل زوئے اونيسيموس په حقله، څوک چه دَ قيد په حالت کښے په رُوحانى طور زما

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه پيدا شى، درته دا خواست کوم. ۱۱ اول خو هغه ستا دَ څهٔ کار نهٔ وو، ولے اوس
ستا اَؤ زما دواړو دَ کار دے.

۱۲ نو ما په خپله هغه، يعنے زما دَ سترګو تور، تا ته دراستولے دے. ۱۳ هغه خو ما
څان سره پاتے کول غوښتهٔ دَ دے دَ پاره چه ستا له طرفه زما خدمت وکړى، چه دَ
زيرى دَ خاطره په دے قيد کښے يم. ۱۴ خو ستا دَ مرضئ نه بغير ما هيڅ داسے کار
کول ونهٔ غوښتل، دَ دے دَ پاره چه ستا نيک کار دَ مجبورئ په وجه نه، بلکه دَ
خوشحالئ سره وى.

۱۵ څکه چه کيدے شى چه اونيسيموس ستا نه دَ دے دَ پاره لږ وخت له جُدا شوے
وى چه بيا تل دَ تا سره وى. ۱۶ خو اوس ئے دَ غُلام په شان نه، بلکه دَ غُلام نه غوره،
يعنے دَ يو خوږ ورور په شان چه هغه په ما ډير ګران دے، څکه چه هغه غُلام هم اَؤ په
مالِک کښے ورور هم دے، نو څکه په تا دِ هم ډير زيات ګران وى.

۱۷ نو کهٔ تهٔ ما خپل شريک ګڼے نو دَئے داسے قبُول کړه لکه ما، ۱۸ اَؤ که دَهٔ
چرے ستا څهٔ نُقصان کړے وى اَؤ يا پرے ستا څهٔ پور وى نو هغه ما پسے وليکه. ۱۹
زهٔ پولوس درته دا په خپل لاس ليکم چه په خپله به ئے ادا کړم، اَؤ دَ دے وينا هيڅ
جاجت نِشته چه زما چه په تا څهٔ پور دے هغه هم تهٔ ئے. ۲۰ اَئے وروره! دَ مالِک دَ
خاطره په ما مهربانى وکړه اَؤ په مسيح کښے دَ يو ورور په حيثيت په دے کار کښے ما
خوشحاله کړه.

۲۱ تا ته په ليکلو زما باور دے چه تهٔ به زما درخواست پُوره کړے، بلکه دَ هغے نه هم
زيات. ۲۲ دَ دے نه علاوه زما دَ ايساريدو دَ پاره يوه کوټه تياره کړئ څکه چه زما اُميد
دے چه ستاسو خلقو دَ دُعاګانو په جواب کښے خُدائے به مے برى کړى اَؤ تاسو ته به
مے دررسوى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## آخری سلامُونه

۲۳ اِپفراس چه دَ مسیح له خاطره ما سره قیدی دے تا ته سلام وائی، ۲۴ اَؤ مرقوس،
اریسترخوس، دیماس اَؤ لُوقا هم چه په کار کښے ما سره ملګری دی.

۲۵ زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح فضل دِ ستاسو ټولو سره وی.

تاسو پوښتني لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © عام ۱۹۹۶
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.